
د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا
اوونیزه

۹۷ مه ګڼه • پنجشنبه • د وږی ۲۱مه • ۱۳۹۸



۷

# په تیرو ٤ کلونو کې په کندهار کې د سیمیز پروګرام له لوري د ۱.۷۳۷ میلیارده افغانیو په ارزښت ٦۲ پرمختیایي پروژې پلې شوي



۲

په تیرو ٤ کلونو کې په میدان وردګو کې د سیمیز پروګرام له لوري د څه باندې ۱۰۱ میلیونه افغانیو په ارزښت ۳۸ پرمختیایي پروژې پلې شوي



٤

په غزني کې په تیرو ۳ کلونو کې د سیمیز پروګرام له لوري د ٦٦ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۵ پرمختیایي پروژې پلې شوي

# په تیرو ٤ کلونو کې په میدان وردګو کې د سېمیز پروګرام له لوري د څه باندې ۱۰۱ میلیونه افغانیو په ارزښت ۳۸ پرمختیایي پروژې پلې شوي

۲۱/ وري/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت سیمه ییز پروګرام له ۲۰۱۵ زیږدیځ کال را پدیخوا د ۱۰۱,۹۸۱,۳۰۹ افغانیو په ارزښت ۳۸ عام المنفعه پروژې د میدان وردګو ولایت په بیلابیلو سیمو کې تطبیق کړي چې ۳۰ دغه پروژې بشپړې او ۸ نورې یې د بشپړیدو په حال کې دي. د دغو پروژو په لړ کې چې ۱۵ یې له ملي بودیجې او ۲۳ یې د نړیوال آسیایي بانک له لوري تمویل شوي ۸٦,٤۷٦ کاري ورځې رامنځته شوي او ۲۱۱,۱۵۷ ځایي اوسیدونکي لدغو پروژو هر اړخیزه ګټه پورته کوي. د دغو پروژو د تطبیق پر مهال استنادي دیوالونه، د اوبو لګولو سربندونه کانالونه، سړکونه، ښوونځي، ټرانسپورتي پلونه او د اوبو لګولو کاریزونه جوړ شویدي. د یادونې وړ ده چې دغو پروژو د ځایي اوسیدونکو د ټولنیز ژوندانه په بیلابیلو اړخونو کې د پام وړ مثبت خپل اغیز شیندلي دي.





# د کليو بيارغونې او پراختيا وزير د روزګان د خلکو ستونزې واوريدې

۱۳۹۸/وري/۱۷

د کليو بيارغونې او پراختيا وزير پوهندوي مجيب الرحمن کريمي د روزګان ولايت د پارلمان، ولايتي شورا د استازو او قومي مشرانو سره د ياد ولايت د ستوونزې د اوريدو په موخه وليدل.

د ليدنې په پيل کې د روزګان ولايت مشرانو د کليو بيارغونې او پراختيا له وزير سره د ياد ولايت ځينې ستونزې شريکې کړې، چې د ولسي تړون نورو ولسواليو ته غځول او د ياد پروګرام د کارونو چټکتيا يې تر نورې مهمې يادې کړې.

د کليو بيارغونې او پراختيا وزير پوهندوي مجيب الرحمن کريمي دوي ته وويل "،،، ستاسې ټولو ستونزو او غوښتنو ته ځان رسول، خپل مسووليت بولم او له تاسې هم غواړم، چې د پروژو د پلي کولو په برخه کې د وزارت له کارکوونکو سره مرسته وکړئ، ځکه ياد پروګرام ستاسې په مرسته تاسې ته د ژوند لومړنيو اسانتياوو ته د لاسرسي په موخه پروژې پلې کوي ،،،،"

د دې ترڅنګ د کليو بيارغونې او پراختيا وزير د ولسي تړون ملي پروګرام مسوولينو ته اړوندې سپارښتنې هم وکړې.



# په غزني کې په تیرو ۳ کلونو کې د سیمیز پروگرام له لوري د ٦٦ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۵ پرمختیایي پروژې پلې شوي

۲۱/ وږي/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت سیمه ییز پروگرام له ۲۰۱٦ زیږدیځ کال را پدیخوا د ٦٦ میلیونه افغانیو په ارزښت۱۵ عام المنفعه پروژې د غزني ولایت په بیلابیلو سیمو کې تطبیق کړي چې۱۲ دغه پروژې بشپړې او ۳ نورې یې د بشپړېدو په حال کې دي. د دغو پروژو په لړ کې چې٥ یې له ملي بودیجې او ۱۰ یې د نړیوال آسیایي بانک له لوري تمویل شوي ۳۷ زره او ۳۷۲ کاري ورځې رامنځته او ۸۳ زره او ۲۱۱ ځایي اوسیدونکي لدغو پروژو هر اړخیزه گټه پورته کوي. د دغو پروژو د تطبیق پر مهال استنادي دیوالونه، د اوبو لگولو سربندونه ،کانالونه، سوونځي، ټرانسپورټي پلونه او د اوبو لگولو کاریزونه جوړ شویدي. د یادونې وړ ده چې دغو پروژو د ځایي اوسیدونکو د ټولنیز ژوندانه په بیلابیلو اړخونو کې د پام وړ مثبت اغیز شیندلي دي.

# په بلخ کې د څه باندې ۳ میلیونه او ۳۰۰ زره افغانیو په لګښت دیوه لومړني ښوونځي د ودانۍ جوړولو کار پیل شو

۱٦/ وري/ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۳ میلیونه او ۳۰۰ زره افغانیو په لګښت د اقراء پروژې تر سیوري لاندې د یوه لومړني ښوونځي د ودانۍ کار د بلخ ولایت په نهر شاهي ولسوالۍ کې پیل شو. یاد ښوونځي ٦ درسي خونې او ۳ تشنابونه لري، د دغه ښوونځي کار ٥٥ سلنه پرمخ تللي چې تر جوړېدو وروسته به یې د ۲۰۰ کورنیو ماشومانو ته د ښوونې او روزونې زمینه برابره شي.





# په هسکه مېنه ولسوالۍ کې د ۱۰۱٤٤ کورنیو سروې بشپړه شوه

۱٦/ وري/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د پایدارې انرژۍ پروګرام له لوري د ننګرهار په هسکه مېنه ولسوالۍ کې د لمریزې برېښنا د اړوندو توکیو د ویش په موخه د ۱۰۱٤٤ کورنیو سروې بشپړه شوه. ددې بهیر د تدارکاتي پړاوونو تر بشپړتیا وروسته به کور په کور د لمریزې برېښنا د اړوندو توکیو ویشل پیل شي، چې په دې سره به د سیمې د خلکو په ژوندانه کې یومثبت بدلون راشي.



## په غزني کې د ۸.۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه لومړني ښوونځي کار روان دي

۲۰/ وري/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې له لوري د غزني د مرکز په عسکریه کلي کې د ۸.۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه لومړني ښوونځي جوړولو کار ۵۰ سلنه مخکې تللی. دا ښوونځی چې د نجونو او هلکانو لپاره جوړیږي ۱۲ ټولګي، ۵ تشنابونه او په لاسي بمبه سنباله د څښاک د اوبو یوه څاه به ولري. ددغه ښوونځي د جوړولو په ترځ کې ۴۲۰۰ کاري ورځې رامنځ ته شوي، چې تر بشپړتیا وروسته به ۴۹٦ زده کونکي تري ګټه اخلي.

## په روزګان ولایت کې د ۵.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې ۲ شبکې ګټې اخستنې ته وسپارل شوې

۲۰/ وري/ ۱۳۹۸

د افغانستان د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسونې د ملي پروګرام له لوري د یونیسیف په مالي مرسته د روزګان د مرکز ترینکوټ ښار په سوله او شهیدانو کلیو کې د ۵.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې دوه شبکې بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې. د سولې کلي د اوبو رسولو شبکه ۴۳۵۰ متره لوړوالی، یوه ذخیره چې د ۳۲ متر مکعبه اوبوظرفیت لري او ۱۵۰ د اوبو نلکې لري او د شهیدانو کلي د اوبو رسونې شبکه ۲۲۸۰ متره لوړوالی، د ۳۲ متره مکعبه اوبو ظرفیت او د اوبو ۵۲ نلکې لري. ددې شبکو په بشپړتیا سره ۴۵۰ کورنیو د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسي پیدا کړ.





# په تیرو ٤ کلونو کې په کندهار کې د سېمیز پروګرام له لوري د ۱.۷۳۷ میلیارده افغانیو په ارزښت ٦٢ پرمختیایي پروژې پلې شوي

۲۱/ وږي/ ۱۳۹۸

کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت سیمه ییز پروګرام له ۲۰۱۵ زېږدیځ کال را پدیخوا د، ۱.۷۳۷ میلیارده افغانیو په ارزښت ٦٢ عام المنفعه پروژې د کندهار ولایت په بیلابیلو سیمو کې تطبیق کړي چې ٤٩ دغه پروژې بشپړې او ۱۳ نورې یې د بشپړیدو په حال کې دي. د دغو پروژو په لړ کې چې له ملي بودیجې تمویل شوي دې پروژو ۳٥٦ زره او ۳٤۲ کاري ورځې رامنځته او ۱۷۰ زره او ۳٤۰ ځایي اوسیدونکي لدغو پروژو هر اړخیزه ګټه پورته کوي. د دغو پروژو د تطبیق پر مهال جوماتونه، قیر سړکونه، د اوبو رسولو شبکې، استنادي دیوالونه، د اوبو لګولو سربندونه، کانالونه، او د اوبو لګولو کاریزونه جوړ شویدي. د یادونې وړ ده چې دغو پروژو د ځایي اوسیدونکو د ټولنیز ژوندانه په بیلابیلو اړخونو کې د پام وړ مثبت خپل اغیز شیندلي دي.



# په لغمان کې د ۲.٤ میلیونه افغانیو په لګښت د کندي کلي سربند جوړولو کار پیل شو

۱٤/ وږي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت له خوا د لغمان د الینګار ولسوالۍ د کندي کلي سربند د جوړولو کار د ۲.٤ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شو.

دا سربند ۱٦۷ متره محافظوي دیوال او نور ملحقات لري چې په بشپړتیا سره به یې سلګونه جریبه کرنیزه ځمکه خړوبه شي او د اوبه خور د منظم سیستم برخه به وګرځي.

# په کندهار کې له ۱۵ کورنیو سره څه باندې ۱٦۳ زره افغانۍ مرسته وشوه

۲۰/ وږي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون د غلو دانو د بانکونو له خوا د کندهار ولایت په شګۍ ولسوالۍ کې له ۱۵ اړمنو کورنیو سره د څه باندې ۱٦۳ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي او ناخوراکي توکیو مرسته وشوه دا مرستې د کلیوالو وګړو او ولسي تړون پروګرام له خوا بې وزلو کورنیو سره وشوې چې وریژې، غوړي، غنم، چاي، بوره او مالګه هم له ویشل شویو توکیو دي.

